## دجرمني په بايرن ايالت کي دافغانانو دکولتوري ټولني غبرکي مباره کې لــه يو غــــــــزل ســـره

۲۰۰۹-۱۱-۲۶

**لمــــــــړی مبـــــــاره کي :**
**پــه ټولــه نـړی خـورو ورو او پــه ګـران هېـوادکې دننـه قدرمنو خوينـدو او ورونـو تـه دبـايرن مېشتو پردېسو افغانانو دکولتوري ټولني غړي د لوی اختر د رارسېدوله کبله دزړه له تله مباره کي وايي، لـه پاک سبحان څخه داهيـله کوي چي زموږ ځوربدلي ولس او هيواد ته دا دکلونو کلونومروره ســوله راپخلا او خپلواکي مـو په برخه کړي .**
**دوهمـــــــــه مبــــــــاره کي :**
**دسترافغان په نوم اوتېغرمبينو هيوادوالــــــــو!**
**تاسوته دبايرن مېشتوافغانانودکولتوري ټولني غړي پـه ډېره مينـه زمـوږدګران افغانستان دکرکټ ملـي لوبډلي داتلوليواوپه پرلـه پسي بريـاوو پسي دنويـو برياووپـه کومـوکي يې چي چين، سينګاپور ،هانګکانـګ اوسعودي عربستان ته په زړه پوری ماتې ورکړې مباره کي وايي ، دلته بايد زياته کړو چې بده بـه نـه وي کـه زمـوږ دامتزلزل او په ځان مين سياستوال زموږ له اتلو کرکټچيانو څخه لږ څه غيرت په پور واخلي .**
**هيــــــــله :**
**زموږ کولتوري ټولنه له افغان دولت او ملي سوداګرو څخه جدي هيلـه کـوي چـي زمـوږ اتلـه دکرکټ ملـي لوبډلـه له مالي او معنوي اړخه ښه پوره ونازوي ترڅو په نړی کي يو ځل بيا قدر پيدا کړو.**

## دجرمني په بايرن ايالت کي مودافغانانو کولتوري ټولنه په لاندې غزل سره په رب سپاري هسک اوسئ .

**داختر خبرې**

ساندې کور په کور دي داختر خبـــرې مه کوئ
روی دخدای وګورئ په خپل سر خبرې مه کوئ
هره خوا ماتم دی هره ورځ دجنــــازو لړی
لاخو توري شپې دي دسحر خبرې مه کوئ
دلــته چنارونه او ګورګوري شول غلبېل غلبېل
زړه مي پرې خوږيږي دنښتر خبرې مه کوئ
سره اوښنه منګي کودي کودي په هديرو پراته
پېغلو پيښتــــــــــنو ته دګودر خبرې مه کوئ
ناست دي دمېرمنو ترڅنګ يو شمېر موزيان مرې سترګي
دغو نـــرښــــــځو ته دسنـــــــګر خبـــــرې مه کوئ
هغه پتنـــګان چي لمبو سوي الوتی نه شي
دومره ورته ډېرې دمجمر خبرې مه کوئ
**زموږ دهسکو ځوکو بازان بند په قفسچو کې دي**

بــند په بـــــند تړلي د وزر خبــــــرې مه کوئ

**غلي شئ اوس وا نه وري ښېرا به يې له خولې ووزي**
**لوېشت په لوېشت قبروکې دمحشرخبرې مه کوئ**
يوغشی له دوو میینو وتی زنکندن يې دی
ځو شېبې يې پرېږدئ دپرهر خبرې مه کوئ
را **شئ** دملالې په خوږه تپه ازاد کړئ ملک
غوږ کې دايوب او داکبر خبرې مه کوئ
بيا مې دتاريخ اتل دا ستر پښتون ميدان ګټي
روس د پېرنګي او سکندر خبرې مه کوئ
دغه جلادان چې نن د دوست په نوم راغلي دي
دوی ته په ښکاره دلر اوبر خبرې مه کوئ
زموږه له انګړه کاروان سرای همدوی جوړ کړی دی
موږ ته به ددوی دخير او شر خبرې نه کوئ
دا ځل د لستوڼي دمارانو په مدت راغلل
مخ به يې ورتور کړو دلښکر خبرې مه کوئ
زه هغه پښتون يم تا ته يادې افسانې زما
دلته د فرعون زورور خبرې مه کوئ
هله به يې ځښو چې هم هېواد او هم مو واک خپل کړو
اوس راته ملګرو دساغر خبرې مه کوئ
دې بې مينې وخت کې مې له مينې زړه تور شوی دی
بس دی ددلدار او ددلبر خبرې مه کوئ
اخ زما ماشومه مينه چا له تېغه تېره کړه ؟
ما بسمل مرغي ته دخنجر خبرې مه کوئ
ما بسمل مرغي ته دخنجر خبرې مه کوئ